بسم الله الرحمن الرحيم

**د افغانستان په لويو ښارونو کې د هوا د ککړتيا عوامل او د هغو حل لارې:**

د شک پرته هر ژوندي موجود د ژوند د دوام لپاره غذا، اوبو او هوا ته ضرورت لري. هوا د ژوند کولو لپاره يوه الهي تحفه ده چي اهميت يي د غذا او اوبو څخه هم زيات دي په دې ډول چي يو انسان د غذا خوړلو څخه پرته تقريباً تر څلورو هفتو پوري او له اوبو ځيښلو پرته تقريباً تر ۴ ورځو پوري په معتدله هوا کي ژوندي پاتي کيدلاي سي مګر برعکس د هوا څخه پرته انسان تر څو دقيقو پوري ژوندي نه سي پاتي کيدلاي.

د هوا د خصوصياتو څخه يو هم د هغې پاکوالي دي، چي له ډيرو پخوا زمانو څخه يو د بحث وړ موضوع ده چي له ميلاد څخه څو پيړۍ وړاندي بقراط (۳۷۰-۴۶۰ ق.م) پاکه هوا د عمومي صحت لپاره تر ټولو مهم او مؤثر اصل پيژانده، همداسی بل مشهور عالم ابوعلي سينا (۴۱۶-۳۵۹ هـ.ش) ککړه هوا او په هوا کي د مضرو زراتو شتون د عمر د کموالي يو له مهمو فکټورونو څخه باله.

هوا د انسان لپاره يوه حياتي او ضروري ماده ده چي د پرلپسي انساني فعاليتونو او طبيعي عواملو په پايله کي ککړيږي.

د هوا ککړتيا په هيڅ پيړۍ کي اوسنۍ کچي ته نه وه رسيدلي چي عمده لاملونه يي په وروستيو پيړيو کي د صنعت او توليد رشد او چټکتيا، د انساني نفوسو چټک زياتوالي او په يوه جغرافيايي نقطه کي يي تراکم او د مختلفو انرژيو دمنابعو څخه زياته او غير معياري ګټه اخيستنه ده.

دا چي په نړۍ کي د ماشين په مټ د صنعت او توليد ميدان ډير ګرم او اقتصادې پرمختګ سويدي نو زموږ هيواد هم له دې پرمختګونو څخه متاثره سويدي او په يو ډول نه يو ډول يي اثرات دلته په هيواد کي موږ ليدلاي سو.

د صنعت او توليد په رشد او پرمختګ کي همداسي د نفوسو په چټک زياتوالي سره پر چاپيرپال او په ځانګړي توګه اتموسفير (هوا) باندي د هغه منفي اثرات راغلي دي او د هوا د ککړتيا لامل ګرځيدلي دي.

د هوا ککړتيا د هغه حالت څخه عبارت ده چي په اتموسفير کي د موادو شتوالي په داسی غلظت سره چي وکولاي سي د انسان په صحت او د ژوند په کيفيت ناوړه اغيزې رامنځته کړي.

دغه مواد کيداي سي چي کيمياوي، فزيکي او بيولوژکي وي لکه غازات، دود، ګرد او نور چي هوا د تنفس لپاره نامناسبه ګرځوي او دداسي هوا تنفس د ناروغيو لامل ګرځي.

د هوا د ککړتيا دوه ډوله سرچيني دي: ۱- طبيعي سرچيني ۲- مصنوعي سرچيني

1 -طبيعي سرچينې: هغه سرچيني او منابع دي چي په طبيعي او خودكار ډول بغير د انسان له ارادې او دخالت څخه هوا ته مختلف جامد او مايع مواد انتقاليږی چي دغه زرات د هوا د ككړتيا سربيره د ځينو مكروبونو د انتقال لامل هم گرځي چي زموږ په هيواد كي اكثره موسمي بادونه وجود لري چي هوا ته خاوري او نور مضر مواد انتقالوي چي پر هوا او چاپيريال باندي منفي اثرات واردوي.

همدارنگه د ځنگلونو د سوځيدو او اتشفشانونو د فعاليدو په اساس هم په طبيعي توگه هوا او اتموسفير ككړيږي.

2 -مصنوعي سرچينې:هغه منابع دي چي د انساني فعاليتونو په اساس هوا ته مضر زرات او غازات د كاربن ډای اكسايد، كاربن مونو اكسايد، سلفرډای اكسايد، نايتروجن ډای اكسايډ، امونيا، هايدروجن سلفايد او نورو په شكل هوا ته خارجيږي او اتموسفير (هوا) ككړوي.

زموږ د هيواد په لويو ښارونو كي د هوا د ككړتيا عوامل:

1 - ناامني: داچي زموږ هيواد د ورستيو څلورو لسيزو څخه په جگړو او ناخوالو كي راگير دي او په جگړه ايز حالت كي قرار لري او نا امني اوج ته رسيدلي ده، د هيواد ولسوالۍ او ليري پراته كلي مو د ژوند كولو لپاره مناسب امنيت او ډاډمن چاپيريال نه لري نو له دې امله د كليو او بانډو اوسيدونكي د لويو ښارونو پر مخ چي په نسبي ډول د ژوند كولو لپاره بهتر دي مخه كړيده او په لوي شمير كي داخلي بې ځايه سوي د هيواد مختلفو لويو ښارونو كي په غير پلاني او غير منظم ډول ميشت سويدي چي په يوه نقطه كي يي د نفوسو تراكم را منځته كړيدي، داچي زموږ د هيواد ژمي په نسبي ډول سوړ وي نو داغه داخلي بې ځايه سوي كورنۍ او افراد په غيري معياري ډول د ځان او كورنيو گرمولو لپاره اقدام كوي چي پر هوا او اتموسفير منفي تاثيرات لرى او د ككړتيا موجب يي كيږي.

2 - د سواد د كچي او عامه پوهاوي كموالي: زموږ د هيواد لوي شمير اوسيدونكي لازمه پوهه نه لري او د شخصي گټو لپاره عامه گټي قربانوي او د هيواد او نورو هيوادوالو مشكلاتو ته نظر نه كوي صرف او صرف يي خپل ځان او گټو ته توجه وي په دې مفهوم چي كه موږ و تاسي د هيواد لويو ښارونو ته نظر وكړو نو وبه وينو چي د هوا د ككړتيا د مخنيوي لپاره خلگ توجه نه كوي او علاقه نه ښي چي د دا لوي مشكل په حل كي په خپل رغبت او رضاكاره ډول برخه واخلي برعكس كه حكومت يي د مخنيوي لپاره څه نا څه اقدام كوي په مقابل كي يي دريږي او همكاري نه كوي چي دا لويه ستونزه له منځه يوسي يا يي په كمولو كي همكار سي.

3 -د غير معياري ترانسپورتي وسايلو شتون: داچي زموږ د هيواد په لويو ښارونو كي د نفوسو تراكم په زيات شمير شتون لري او په اكثره لويو ښارونو كي دولتي بسونه غير فعال دی همدارنگه د هيواد بندرونه په كامل ډول خلاص دي او دوهم لاس موټرونه

او ترانسپورتي وسايل په کم قيمت د لاس رسي وړ دی او همداراز پخواني او زاړه وسايط هم په لويو ښارونو کي په زيات تعداد شتون لري چي د استعمال پر مهال په پراخه کچه کاربن ډای اکسايد او نور مضر غازات هوا ته انتقالوي چي دا هرڅه د هوا د ککړتيا د لويو لاملونو څخه ګڼل کيږي او د ژوند کولو چاپيريال يي ډير بدرنګه کړيدي.

4 - د غير معياري سون توکو استعمال: زموږ هيواد ته واردېدونکي اکثره تيل او نور سون توکي بغير له لابراتواري معايني څخه هيواد ته داخليږي او يا هم په داخل کي د مختلفو طريقو او لارو څخه په ګټه اخيستني د نوموړو سون توکو سره نور مواد مخلوط کيږي چي د استعمال پر مهال زيات کاربن ډای اکسايد او نور مضر غازونه توليدوي او د هوا د ککړتيا لامل کيږي، او يا هم په اکثره لويو ښارونو کي د اپارتمانونو، حمامونو او هوټلونو د ګرميدو لپاره د ټايرونو او نورو غير معياري ربړي موادو څخه استفاده کيږي چي د هوا په ککړتيا کي فعاله ونډه لري.

5 -د بريښنا نا منظم جريان: داچي په لويو ښارونو کي د نفوسو په زياتوالي سره زياتي بريښنا ته هم ضرورت محسوسيږي او بايد کافی بريښنا ولري چي هغوئ خپل ضرورتونه د بريښنا څخه مرفوع کړي نو کله چي بريښنا نه وي افراد او ټولني بديلو لارو ته مخه کوي چي په غير معياري ډول خپل ضرورتونه پوره کړی.

6 -د منظمو او معياري جادو نه شتون: داچي د هيواد په لويو ښارونو کي اکثره جادې خامه او يا هم په غير معياري ډول رغول سويدي او يا يي هم صفايي او نظافت ته په اساسي شکل توجه نه کيږي نو د ترانسپورټی وسايلو د عبور او مرور پر مهال هوا ته په زياته اندازه خاوره او نور مضر زرات ګډيږي او د هوا د ککړتيا او مکروبي کيدو لامل کيږي.

7 -د شنو ساحو نه شتون يا کموالي: دا چي ونـي او شنه ساحه تر ډيره بريده د هوا په پاکيدو او فلټر کي فعاله ونډه لري خو بدبختانه زموږ د هيواد په اکثرو لويو ښارونو او ښارونو ته په ور څيرمه نږدې سيمو کي ونـي او شني ساحي شتون نه لري او يا يي هم شتون پر نشت حسابيږي،او هغه ځنګلونه او شني ساحې چی په طبيعي ډول د هيواد په ډيرو سيمو کي شتون لري د هغه څخه هم بدبختانه په درست او معياري ډول ساتنه او مراقبت نه کيږي او وخت په وخت د ځينو مضرو اشخاصو لخوا څخه شني ونـي قطع کيږي او له منځه وړل کيږي، ونـي او شنې ساحې د موسمي بادونو ګردونو او غبار په مخنيوي کي عمده او اساسي رول لوبولاي سي.

8 -د منظم کاناليزاسيون نه شتون: د هوا د ککړتيا يو ډول هم د بد او ناراحت کوونکي بوي شتون دي چي د هيواد په ډيرو لويو ښارونو کي منظم کاناليزاسيون شتون نه لري او هر چا په غير پلاني او غير معياري ډول د مصرف کيدونکو اوبو او فاضله

موادو پاپیونه عامه کوڅو او چریو ته ایله کړیدي چي د هوا د ککړیدو او بد بویه کیدو فعال مشترکین دي.

9 - د موسمي بادونو شتون: د هیواد په یو شمیر لویو ښارونو کي موسمي تیز بادونه د کا ل په مشخصو میاشتو کي پیدا کیږی چي د زیات تیزوالي په اساس د خاورو ذرات هوا ته انتقالوي او په موقت ډول د هوا د ککړتیا او مکروبي کیدو لامل کیږي.

دا هغه عمده لاملونه دي چي زموږ د هیواد افغانستان د لویو ښارونو د هوا د ککړتیا لامل کیږي چي د هوا د ککړتیا د مخنیوي حل لاري یي په لاندي ډول دي:

1 - داچي سوله او امنیت د ټولو په خیر او ښیګڼه دي لومړي باید ټول ولس او حکومت خپل ټول تمرکز پر سوله او ډاډمن امنیت راټول کړی تر څو زموږ کلي او بانډي امن سي او هلته د ژوند کولو معیار برابر سي تر څو داخلی بی ځایه سوي افراد او کورنۍ خپلو سیمو ته ستانه کړل سي چي له مخي به یي په لویو ښارونو کي ازدحام او د نفوسو تراکم اوپه یوه نقطه کي راټولیدنه به له منځه ولاړ سي.

2 - باید د تبلیغاتي او ټولنیزو رسنیو له لاري د هیواد اوسیدونکي د ککړي هوا له بدو عواقبو څخه خبر کړل سي او د لویو ښارونو په منځ کي باید د لویو تبلیغاتي بینرونو په اساس د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره د ولس د عامه پوهاوي کچه لوړه سي، د مکتبونو او پوهنتونونو په درسي نصاب کي په بنسټیز ډول د هوا او چاپیریال پر ککړتیا موضوعات ځاي پر ځاي سي او په ټولو لویو ښارونو کي باید د عامه پوهاوي لپاره سمینارونه او علمي بحثونه جوړ سي او د ککړي هوا څخه د را بیدا کیدونکو ناروغیو په اړه باید ولس او ټولنه وپوهول سي.

3 - په هیواد کي باید ټول زاړه ترانسپورتی وسایل قرنطین سي او په لویو ښارونو کي یي د چلیدو مخنیوي وسي، دوهم لاس او غیر قانوني عراده جات باید کنترول سي او پر مخنیوي یي جدي کار وسي او عامه ترانسپورتی بسونه باید په نوي بڼه فعال سي چي له یوي خوا څخه به د هوا د ککړتیا مخنیوي وسي او له بله پلوه به د ښارونو د ازدحام ګراف را ټیټ سي.

4 -د هیواد ټول سرحدات او بندرونه باید جدي وڅارل سي او غیر معیاري سون توکي باید په هیڅ صورت هیواد ته وارد نه سي او په هر بندر کي باید د سون توکو د معاینې لپاره مجهز او معیاري لابراتور جوړ کړل سي.

5 - په هیواد کي د اوبو د مهار لپاره باید جدي اقدامات او عملي کارونه په شدت سره تر سره سي او کوښښ وسي چي معیاري او دوامداره داخلي بریښنا برابره سي چي دا کار د هوا د ککړتیا د مخنیوي تر څنګ زموږ له ملي اقتصاد سره ډیره او د پام وړ مرسته کولاي سي.

6 - د ټولګټو وزارت او د ښاروالیو لخوا څخه باید د لویو ښارونو جادې او واټونه په اساسي ډول ورغول سي او هر وخت باید ورڅخه مراقبت وکړي او د نظافت ساتلو لپاره یي باید مجهز او عصري ماشین الات او وسایل وپیري چي بغیر له ګرد جوړولو څخه په درست ډول د ښارونو واټونه او جادې صفا کوي.

7 - باید په ټولو لویو ښارونو کي سرسبزۍ ته خاصه توجه وسي او همداسي د ښارونو په څنډو کي پر دښتو او تپو باندي وني کېښودل سي او جدي مراقبت او ساتنه یي وسي او همداسي د ټولنیزو رسنیو له لاري له ولس څخه غوښتنه وسي چي وني وکري او له کرل سویو ونو څخه ساتنه وکړي او د هیواد له ټولو ځنګلاتو څخه باید په سم او قانوني ډول ساتنه وسي او د ونو کر پکي ډېر سي تر څو وهل سوي وني دوباره احیاء سي او تشه یي ډکه سي او هیڅ چاته دا اجازه ورنه کړل سي چي د هیواد دې ملي سرمایي ته زیان ورسوی.

8 - په لویو ښارونو کي باید د کاناليزاسيون منظم سیستم جوړ سي تر څو د مصرف سوی اوبه او فاضله موادو یو ځاي په یوه کانال کي جریان پیدا نه کړي باید د فاضله موادو لپاره جلا سر پټي پایپونه او معیاري سیستم جوړ کړل سي تر څو د ښارونو هوا بد بویه نه سي او د خلکو د ناراحتی سبب ونه ګرځي.

لیکوال: محمدکبیر عبیدي

منابع:

1 - چاپیریال ساتنه – لیکوال: پوهیالي خدایداد کوچی
2 -چاپیریالي انجنیري – لیکوال: پوهاند دیپلوم انجنیر عارف الله مندوزی
3 -حفاظت محیط زیست – لیکوال: پوهیالي سمیع الله امان
4 -د ژوند چاپیریال او د طبیعي منابعو ساتنه – لیکوالان: ښوونیار عبدالمالک فیضان او ښوویالي شمس الدین شمس
5 -https://www.taleemulislam-radio.com/bashpar.php?id=6706
6 -https://ps.wikipedia.org/wiki/%DA%86%D8%A7%D9%BE%DB%8C%D8%B1%DB%8C%D8%A7%D9%84%DB%8C_%D8%B1%D9%88%D8%BA%D8%AA%D9%8A%D8%A7_%D8%B3%D8%A7%D8%AA%D9%86%D9%87